مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۳/۰۹

شعار څرنګه په شعر بدل کړو؟

ډېر ځله شاعر، ژمن او حساس شاعر، په تېره بیا زمورږ د ټولنې په شان ټولنو کې مجبور وي چې په خپل شعر کې خلکو ته پیغام وراندې کړي. د «هنر» او «ژوند» مسأله لا تر اوسه هم ګرمه ده او څوک نه دي توانېدلی چې د «هنر د هنر لپاره» مقوله په ټولو شاعرانو او هنرمندانو ومني. زما په ملک کې چې نسلونه د تباه کېدو په حال کې دي، چې تعصب له ژوند سره دښمني اخیستې ده، چې د انسان وینه خورا ارزانه شوې ده، چې زما ځوان نه د خپل ژوند په قدر پوهېږي نه بل ژوند کولو ته پرېږدي، په داسې یوه وطن کې به هنر د هنر لپاره خبره بې مانا نه وي؟ هنر د انسان لپاره دی چې انسان ځنې خوند واخلي او ژوند د انسان جوهر دی. هلته چې یو ژنی ځان په بمونو الوځوي، چې خپل ژوند ورته د دوو روپو نه ښکاري او د نورو ژوند هم ورته د توت قدري اهمیت نه لري، هلته چې ځانمرګی له ځانه سره نور ژوندونه ختم کړي دي، چې د پېښې ټپیان د مرستې ناري وهي او ځینو خو دومره وینه ضایع کړې وي چې ان مرسته هم نه شي غوښتلای، ته هلته د پیکاسو شهکاره هنري تابلو په غېږ کې وګرځوه او دا تمه ولره چې خلک به له دي هنري شهکار څخه خوند واخلي. یا هلته چې د واده په مراسمو کې الوتکې بمبارد کړی دی، هغه خلک چې راغلي وو د ناوې په لاس نکریزي کیږدي، اوس د همدې ناوې په وینو سور غوڅ شوی لاس مومي، چې اتنچیاني پېغلې لکه اختري پسونه په وینو لڑند پرتې دي، په همداسې منظره کې ډول په غاړه واچوه او غاړه اوږده کړه چې: «لونګینه پر څنګ څنګ راواوړه»؛ ډېره بې مانا نه ده؟

نو په داسې حالاتو کې هغه شاعر چې د خلکو په درد دردېږي او د انسان پر اوښکو ژړېږي، څنګه کولای شي «ژوند» له «هنر» څخه وباسي او نګه هنر ته ژمن پاتې شي. خو په عین حال کې که هنرمند خپل انساني پیغام د هنر له خواړه سره مل نه کړي، نو وینا به یې تش شعار او وچ نصیحت وي چې نه به په پر چا اغېز وکوي او نه به چا ته خوند ورکوي. له شعار څخه شعر جوړول، هنر غواړي او دا د هر چا کار نه دی.

راځئ د ښاغلي عبدالغفور لېوال هنري پیغام ته غوږ شو چې د ښاغلي فرهاد دریا له هنرمند ستوني راوتلی دی:

ژوند، ژوند، ژوند
ژوند ښکلی دی
یه خلکو خلکو خلکو! ښکلو خلکو
مه نیسئ
ژوندون ته ټوپک مه نیسئ
دار څخه پرې واخلئ
بار له یو سترې واخلئ
ژوند ښکلی دی
ژوند ښکلی دی
ښکلی ، ښکلی ، ښکلی ، ښکلی
ښکلی دی
ژوند ښکلی دی
ژوند ښکلی دی
* * * *
آیینه مصاف کې چا ته
تر زرین شال لاندې هنداره کې لومړۍ موسکا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او بيا له لاسه نيول
سور په نكروزو يې د ناوې سپين مړوند ښكلی دی
ژوند ژوند ژوند
ښكلی دی
ژوند ښكلی دی
****
لكه غنمو كې د غيږو ايستل
لكه ګانۍ سره راتاوه منډه
لكه ناوې نه راروانه شيره
لكه يو خوږ ګنی همداسې بند په بند ښكلی دی
ژوند ژوند ژوند
ښكلی دی
ژوند ښكلی دی
****
د قرائت كتاب كې دوه نښې دي
يوه ښكه د طاووس بل د جانان تصوير
په ازموينه كې د نقل يو وړوكی كاغذ
او د رحمن بابا غزل سره د سترګو رسم
په مړاوو سترګو كې د پټو غمو خوند ښكلی دی
ژوند ژوند ژوند
ښكلی دی
ژوند ښكلی دی
****
د كمپيوټر په پرده راغی مسيج
د يوې مينې ځو خوږې اشارې
په مسينجر كې يې ځواب غواړي
له چانه ورک دي ټول ښايسته لفظونه
ناست ورته لاس تر زنې وړكی فكرمند ښكلی دی
ژوند ژوند ژوند
ښكلی دی
ژوند ښكلی دی
***

ګمان كوم چې تاسې به هم راسره اتفاق وكړئ چې ښاغلی لېوال توانېدلی دی چې شعار په شعر بدل كاندي. كه همداسې ده، راځئ وګورو چې ده څنګه دا كار كړی دی. هڅه به وكړو چې د ده تخنيكونه راپيدا كړو.
د دې شعر اصلي پيغام دا دی چې: «وه خلكو! خلک مه وژنئ، ځكه چې ژوند ښكلی دی» كه خبره په همدې ښه وشي پر هېڅا به اغېز ونه كړي؛ خو لېوال صاحب خبره هنري كړې ده. دی وايي:
مه نيسئ، ژوندون ته ټوپک مه نيسئ
زما په فكر په دې بند كې ټول كمال د ژوندون په كلمه كې دی. كه د ژوندون پر ځای يې انسان ليكلی وای، بيا به يې شعر اوسنی قوت نه لاره. ژوندون ته ټوپک نيول، يوازې د يوه يا څو انسانانو د قتلولو خبره نه ده، د ژوند د قتلولو خبره ده. په ږښتيا هم ان د يوه انسان د ژوند ختمول، د ژوندون ختمول دي. هغه څوک چې وژل كېږي، مور به لري چې تر مرګه به د هغه په ياد ژاړي، پلار به يې تر مور هم بېجاره وي، نه به په چيغو چيغو ژړلی شي چې د زړه غم يې سپک شي او نه به دا درد زغملای شي. هغه چې وژل شوی دی، مېرمن به لري چې د مېړه له مرګ سره د دې هيلې، ارمانونه، احساسات او زړه قتلېږي. هغه به اولاد لري چې هر مابنام به د پلار د راتلو په تمه د انګړ وره ته يې سترګې نيولي وي، چې ګاونډی به په اختر كې خپلو اولادونو ته نوې جامې كړې وي او دوی د زړو جامو له شرمه له كوره نه شي راوتلی، چې د اختر خوشحالی نه شي احساسولای. ان كه دوی بېوزلي هم نه وي او هرڅه ورته ورسېږي، مګر بيا به هم خورا زهير وي ځكه په دنيا كې داسې شی نشته چې د پلار او مور د مينې بديل وګڼل شي، چې د هغوی د مينې تنده پرې ماته شي. كله چې څوک دا شعر لولي چې: «مه نيسئ، ژوندون ته ټوپک مه نيسئ» دغه ټولې خبرې يې په ذهن كې تداعي كېږي؛ نو د ښه شاعر كمال همدا دی چې د كلماتو په قوت او ضمني معناوو باندې فكر كوي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ

دار څخه پرې واخلئ
بار له یو سترې واخلئ
که شاعر ووایي چې «د دار پرې پرې کړئ» خبره هماغه ده؛ خو ایا اغیز به یې هم هماغه وي؟ دلته «دار» منفعل نه دی، دلته دار ته تشخص (personification) ورکړل شوی. له بې روحه دار څخه ذیروح دار جوړ شوی دی. دغه تخنیک مرسته کړې ده چې د دار قوت لا زیات وښیي؛ ځکه چې بې روحه شی یوازې وسیله وي او انسان خو په وسایلو باندې بر وي، انسان به هرڅه پرې کولای شي؛ خو که هغه ذیروح وي، هغه به د مقابلې توان ولري، یوازې وسیله به نه وي بلکې خپل زور او ځواک به لري. اوس چې ګورو دا ټوپک دی چې پر ځینو خلکو حکومت کوي، ځینې بنې ادمان د خپلو وسلو غلامان شوي دي او د وسلو په امر خلک قتلوي. د دار د حکومت ختمول اسانه کار نه دی او غښتلي اراده غواړي، پوهه غواړي، احساس غواړي، مینه او عاطفه غواړي. شاعر له یوې خوا دار غښتلی او ځواکمن ښیي چې پر خپلو غلامانو حکومت کوي له بلې خوا هغه خوار او بېچاره ګڼي چې نور نو سترې شوی دی او د بني ادم د قتلولو بار نه شي وړلای. یعنې څومره چې د دار له سلطې څخه وتل سخت ښکاري هماغومره اسان هم دي.
ورپسې شاعر خپله ادعا (ژوند ښکلی دی) ثابتوي. دی د ژوندانه د مختلفو پراونو د ښکلاوو منظري زموږ سترګو ته دروي. خو شاعر په کلیاتو او عمومیاتو لګیا نه دی، د ښکلا یوه لمحه، یوه وړه شېبه راباندې ګوري خو دغه وړه شېبه د ډېرو نورو ښکلاګانو مور وګڼه چې په خپله بیا د لوستونکي په ذهن کې تجسم کېږي.
آیینه مصاف کې چا ته
تر زرین شال لاندې هنداره کې لومړۍ موسکا
او بیا له لاسه نیول
سور په نکروزو یې د ناوې سپین مړوند ښکلی دی
که شاعر ویلي وای چې ژوند په دې ښکلی دی چې سړی واده وکړي؛ نو خبره به یې پر چا اثر کړی وای؟ نه. دی د واده هغه صحنه یادوي چې د هرچا عواطف پاروي. ما په ژوند کې تر همدې صحنې بله خوندوره عاطفي صحنه نه ده لیدلې. د خپل ورور د واده کیسه به درته وکړم. ناوې او زوم چې هوټل ته راغلل، د دواړو تندي تروه وو. سینګارتون کې ډېر ځنډېدلي وو، ناوې ته چا ویلي وو چې ښه یې نه یې سینګار کړې. زوم په دې قهر و چې لاربندي وه، او دلته هوټلي ویل چې ډوډۍ سړېږي، ژر کوئ. خو همدا چې ناوې او زوم په آیینه مصحف کې یوه بل ته په هېنداره کې کتلي وو، دواړه موسک شوي وو او دا هرڅه یې هېر کړي وو
نن سبا ځانمرګي پیدا شوي دي چې خپل د ماشومتوب خواږه وختونه یې هېر کړي دي او اوس د ځان او د نورو د وژلو نیت لري، چې اوس یې پر ماشومانو باندې لوبې او ساعتیرۍ نه لورېږي، چې اوس ماشومانو ته مرګونه غواړي، شاعر هغوی ته وایي:
لکه غنمو کې د غیږو ایستل
لکه ګانۍ سره راتاوه منډه
لکه ناوې نه راروانه شیره
لکه یو خوږ ګنی همداسې بند په بند ښکلی دی
ژوند، ژوند، ژوند ښکلی دی
یقیناً که څوک د ماشومتوب د سپېڅلي وخت، لوبې او د لوبې ملګري رایاد کړي، په زړه کې به یې د مینې او عاطفې وچه شوې چینه بیا وخوتېږي او د مرګونو له فکره به تېر شي.
همداسې د مکتب او مدرسې د دورې خواږه یادونه سړی له انسان سره مینې ته وربولي. ښاغلی لېوال دا کمال هم کړی دی چې د ژوند د مختلفو پراوونو تر څنګ یې د مختلفو وګړو د ژوند خواږه هم یاد کړي دي، که یو ځل په غنمو کې د غېږو ایستل یادوي، بل ځای کمپیوټر او مسنجر یادوي او مخاطب ته دا پیغام ورکوي چې په پټیو کې د غېږو ایستل هماغه خوند لري چې په کمپیوټر کې چټ کول یې لري. هماغه احساس او عاطفه چې تا په کلي کې د خپلو ملګرو په وړاندې لرل، هماغه احساس د ښار د ژوند په زړونو کې هم شته؛ نو هغه وختونه دریاد کړه چې زړه دې د مینې ځاله وه، راځه د خلکو له وژلو تېر شه.
بله خبره چې د ژوند شعار یې په شعر بدل کړی دی، د تشبیهاتو کارول دي. «لکه یو خوږ ګنی همداسې بند په بند ښکلی دی» دغه تشبیه له یوې خوا د کلي منظره رایادوي، کروندې، ګني او ورسره خواږه وختونه، له بلې خوا د انسان ژوند لکه د ګني بندونه مختلف پراوونه لري او هره دوره یې خپل خوږوالی. شاعر چې ژوند د ګني له بندونو سره تشبیه کوي، د ژوند د هرې مرحلې خوږې شېبې سړي ته وریادوي.
دلته د «بند په بند» موسیقي هم بلا کړې ده، کله چې «بند» تلفظ کوو په پای کې یې مو ساه بندېږي یعنې کلمه په ناغږو توري ختمېږي چې د ګني د بندونو له فزیکي جوړښت سره اړخ لګوي. له بلې خوا «بند په بند» له «ژوند، ژوند، ژوند» سره د «ن» او «د» د اشتراک په وجه غښتلي موسیقي تولیدوی. په طب کې یوه اصطلاح ده چې سینرجیزم نومېږي: په یوه میکروب باندې د یوه درمل اثر 5 دی او د بل درمل اثر 3، سینرجیزم هغه حالت ته وایي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې دغه دوې دواګانې یو د بل اثر لا زیات کړي او که دواړه یوځای استعمال شي، پر میکروب باندې یې مجموعي اثر 8 (3+5) نه؛ بلکې 12 شي. هر کله چې د شعر موسیقي
له مفهوم سره غاړه غړۍ شي، همداسې سینرجیزم جوړوي. زه باور لرم که د چا په زړه کې د عواطفو او احساساتو یوه وړه سپرغۍ هم لا پاتې وي، دغه شعر به یې په روښانو ځلاندو ډبوو بدله کړي چې هم د زړه خاوند او هم بشر ته به رڼا ورکوي.
زه د ښاغلي لېوال د شعر له مطالعې دې نتیجې ته ورسېدم چې:
-د کلماتو پر قوت او ضمني معناوو فکر کول،
-د عواطفو د راپارولو لپاره د عمومي او کلي خبرو پر ځای، د کوچنیو عاطفي صحنو راوړل،
-د مناسبو تشبیه ګانو، استعارو او سېمبولونو کارول،
-د کلماتو موسیقۍ ته داسې پام کول چې له د کلماتو مفهوم تداعي او اغېز یې لا زیات کړي
راسره مرسته کوي چې شعارونه په شعرونو بدل کاندو. ممکن تاسې نورې خبرې او نور چلونه هم په کې پیدا کړئ؛ نو یو ځل بیا دغه شعر په ځیر ولولئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ